Karyn Burns ABCs
The ABCs of S.T.E.M.
Student of the Week

# د کورنۍ لیک

درنو کورنیو:
سږکال، زموږ ټولګي د S.T.E.M په ABCs کې د ګډون لپاره لیواله دي .
د اونۍ زده کوونکي پروګرام.

د ABCs of S.T.E.M د خوښي یوه ساده، او په زړه پورې لار د زده کوونکو، او د هغوی کورنیو او عزیزانو لپاره ده چې د S.T.E.M له مفهوم سره آشنا شی کوم چې مخفف دی د ( ساینس، ټیکنالوژی، انجنیري او ریاضی) لپاره .

پدې کڅوړه کې ټول هغه توکي شامل دي کوم چې د ABCs of S.T.E.M څخه د خوند اخیستلو لپاره اړین دي. د اونۍ زده کوونکی تجربه. د دې کارت په شا کې د لارښوونو، او د اونۍ زده کوونکي پوسټر به کارولو سره د خپل لارښود په توګه، د مختلفو فعالیتونو څخه په یو شان سرعت چې تاسو او ستاسو د کورنۍ د اونۍ مهال ویش سره سمون او مناسب وي خوند واخلئ . هره ورځ، له خپل زده کوونکي وغواړئ چې خپل فعالیتونه په خپل پوسټر کې ثبت کړئ.

د اونۍ زده کوونکي بشپړ شوي پوسټرونه به د اونۍ په پای کې ټولګي ته راوړل شی. چیری چې ستاسو زده کوونکی به بیا د دویABCs of S.T.E.M اونۍ وړاندې کړي. د اونۍ د زده کوونکي بشپړ شوي پوسټر په کارولو سره د ټول ټولګي کورنیو لپاره سرګرمی شتون لری. په دې کڅوړه کې شامل پاتې توکي ستاسو د ځان سره د د ساتلو او خوند اخیستلو لپاره دي.

ستاسو له ملاتړ نه مننه! که تاسو غواړئ د ABCs of S.T.E.M په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ. او د پروګرام په اړه اضافي اصلي سرچینو ته لاسرسی ومومئ، مهرباني وکړئ د پروګرام د پیژندنې ویډیو د QR کوډ په سکن کولو سره وګوری.

ما سکن کړی

**د اونۍ په پای کې، مهرباني وکړئ خپل زده کوونکي د اونۍ د بشپړ شوي زده کوونکي پوسټر سره ښوونځي ته راستانه کړي. پاتې توکي ستاسو لپاره دي چې ځان سره یې وساتي!**

Copyright 2023 Karyn Burns ABC's All Rights Reserved.

# لاربنوونې

Karyn Burns ABCs
The ABCs of S.T.E.M.
Student of the Week

**لاندې هر یو فعالیت د هغه موادو په کارولو سره بشپړ کړئ چې ستاسو د زده کوونکي د کور بکس کې شامل دي. ټول فعالیتونه خپل د اونۍ د زده کوونکي پوسټر کې ثبت کړئ. فعالیتونه ښایي په ورځنیز توګه یا په هغه سرعت سره بشپړ شي چې ستاسو مهالویش سره برابري او سمون ولري.**

## لومړی فعالیت: د ABCs of STEM د ډوډۍ وخت

**لاربنوونې:** د ډوډۍ په وخت کې، د ABCs of STEM کې د خپل لومړي نوم حرفونه وموميځ. له نورو هم وغواړئ چې خپل د نومونه حرفونه ومومي! خپل د اونۍ د زده کوونکي پوسټر لومړی برخه بشپړه کړئ .

**مواد:** د ABCs of STEM پوسټر، د اونۍ زده کوونکي پوسټر.

## دوهم فعالیت: د ABCs of STEM لوستل

**لاربنوونې:** د ABCs of STEM کتاب د کورنۍ له غړي یا ملګري سره ولولئ. خپله د اونۍ د زده کوونکي پوسټر دوهمه برخه بشپړه کړئ.

**مواد:** د ABCs of STEM کتاب ، د اونۍ زده کوونکي پوسټر.

## درییم فعالیت: د ABCs of STEM لوبې

**لاربنوونې:** د ABCs of STEM د کارت لوبې د کورنۍ غړي یا ملګري سره وکړئ. خپل د اونۍ د زده کوونکي پوسټر دریمه برخه بشپړه کړئ.

**مواد:** د ABCs of STEM د لوبې کارت ، د اونۍ زده کوونکي پوسټر.

## څلورم فعالیت: د ABCs of STEM فعالیت

**لاربنوونې:** د ABCs of STEM د تجربو او فعالیتونو کڅوړه څخه سره یو تجربه یا فعالیت ترسره کړئ ، یا خپله تجربه ترسره کړئ! خپله د اونۍ د زده کوونکي پوسټر څلورمه برخه بشپړه کړئ (دوه برخې شتون لري)

**مواد:** د ABCs of STEM تجربو او فعالیت کڅوړې، د اونۍ زده کونکي پوسټر. یادونه: ځینې فعالیتونه ممکن اضافي موادو ته اړتیا ولري، مهرباني وکړئ شامل شویو فعالیتونو ته مراجعه وکړئ.

**د اونۍ په پای کې، مهرباني وکړئ خپل زده کوونکي د اونۍ د بشپړ شوي زده کوونکي پوسټر سره ښوونځي ته راستانه کړي.**

Copyright 2023 Karyn Burns ABC's All Rights Reserved.